

انوره دو بالزاک فرانسوي مخکښ او پیاوړی لیکوال

**انوره دو بالزاک:**

هغه د (۱۹)مې پېړۍ د فرانسوي ادبیاتو د مخکښانو په توګه پېژندل شوی او نامتو لیکوال وو. په اروپا کې د ټولنیز ریالیسم د بنسټ ایښودونکو له ډلې څخه دی. دی د می میاشتې په (۲۰)مه، پر (۱۷۹۹)زیږدیز کال کې د فرانسې په «تور» ښار

کې زیږیدلی دی. ډېر ګټور او اغېزناک نښیرونه(آثار) یې لیکلې دي. د فرانسې او نړۍ پر ادبیاتو یې خورا لوی اغیز پرېښښی دی. (انساني کمدي) هغه نوم دی چې بالزاک د خپلو نښیرونو (اثارو)د ټولګې لپاره غوره کړی، چې شاوخوا (۹۰) ناولونه او لنډې کیسې پکې شتون لري.

انوره دو بالزاک د اګست میاشتې په (۱۸)مه، پر (۱۸۵۰)ز کال د پاریس په ښار کې مړ شوی دی.

**دا هم د انوره دو بالزاک مهمې او ګټورې خبرې او ویناوې:**

- مور یواځینۍ هستي ده چې، د سپیڅلې او پاکې مینې په حقیقت پوهېږي.

- په دنیا کې ماته دوه انځورونه ښکلي دي یو د ګل انځور او بل د مور تصویر.

- د دښمنانو د کمولو تر ټولو ښه لاره د دوستانو زیاتول دي.

- لوی استعداد او وړتیا له کلک او ټینګ تکل او ارادې پرته هیڅ مانا او مفهوم نلري.

- «غوښتنه» مور سوځوي او "وړتیا او توانېدل" مور له منځه وړي، مګر "پوهیدل" زموږ بې ځواکه وجود د "آرام" په دوامداره حالت کې ساتي.

- شایي دا د انسان په فطرت کې وي چې کله یو څوک د رښتینې عاجزۍ یا کمزورۍ یا بې پروایۍ له امله څه شی زغمي، موږ غواړو هر څه په هغه تحمیل کړو.

- حسادت  دا تر ټولو احمقانه او بد عادت دی، ځکه چې دا حتا یوه ګټه هم نه لري!

- تر هغه څه ډیر ښکلی دی چې یو سړی خپل ژوند ته وګوري او هغه د زنبق ګل په توګه سپین او خالص ووینې؟

- هغه څوک چې د هوس په اور کې سوځي خو څه تر لاسه کولای نه شي، په بدن کې یې دننه زهر راټولېږي.

- سپېڅلي احساسات ډېر ګټور دي، ولې انسان باید په رذیلانه او بدو احساساتو پسې و نه ګرځي؟

- د ښځې کمال په مورتوب کې دی، کومه ښځه چې مور نه وي هغه نیمګړی وجود دی.

- هرڅومره چې مور ډېر قضاوت کوو، هغومره لږ عاشق کیږو.

- د مور زړه دومره پراخ دی چې تل په هغه کې بخښنه موندلی شئ.

- تاسو هیڅکله د مور له مینې څخه غوره، واقعي او رښتیني مینه نشئ موندلی.

- مینه د واده سهار دی او واده د مینې ماښام دی.

- په بد مرغۍ کې دا ښېګڼه شته چې رښتیني دوستان راپېژني.

- هیله تر ټولو غوره ملاتړ او تر ټولو لوړه تکیه ځای دی. تل هیلمن اوسئ.

- ستاسو ارزښت په دې کې دی چې تاسو څوک یاست، نه په هغه څه کې چې تاسو یې لرئ.

- د لوی تکل او ارادې پرته هیڅ لوی استعداد او وړتیا شتون نلري.

- د خبرو کولو هنر د ژوند کولو هنر دی.

- دا یوازې په ستونزمنو او سختو وختونو کې دی چې خلک پوهیږي چې د خپلو احساساتو، اندونو او فکرونو کنټرول څومره ستونزمن دی.

- حساسیت، مینه، زغم او قرباني د ښځې ژوند جوړوي.

- نیک بختي او نیکمرغي په کار او زړورتیا پورې اړه لري.

- یو رښتینی هنرمند باید د هنر لپاره د هنر د ارونو او اصولو ملاتړ وکړي.

- مفکوره هغه شتمني ده چې یوازې هغه وخت ګټوره وي چې د تکړه او با استعدادو خلکو په لاس کې وي.

- د هنر دنده د پنځ (طبیعت)پلوي کول ندي بلکې د هغه بیانول او څرګندول دي.

- پیسې هیڅوک نه پېژني، پیسې غوږونه نه لري، پیسې سترګې نه لري، پیسې زړه نه لري.

- د یو حقیقت د پوهیدو لپاره، موږ باید هغه ته وګورو، داسې نه چې له هغه څخه وتښتو.

- بريالي انسان د هغه څه کولو عادت پیدا کوي چې مات او ناکام انسان يې نه خوښوي.

- د تمدن موخه او هدف د خلکو سوکالي، هوساينه او آرامي ده.

***

**په ادبي مينه او درنښت: انجنير عبدالقادر مسعود**